24/11/2014

لیکوال : پوهاند ډاکټر بشیر احمد زکریا
ژباړه : رحمت آریا

# افــغــان شهـــــــزاده

# او زه

## " په افغانستان کې لومړنی امـریکایي "



**شهزاده اکبرخان ( ۱۸۱۶-۱۸۴۶)**

# تأریخي نـاول

**لیکوال : پـوهانـد بشیر احمد زکـریـا**

**د کولمبیا د پوهنتون دایمي پروفیسر**

**ژباړه : رحمت آریـا**

## ډالۍ

# د افغانستان پر خپلواکۍ مَـیّـن ملت ته

**د کتاب ځانګړتیاوی**

د اثرنوم : افغان شهزاده او زه " په افغانستان کي لومړنی امریکائي "

لیکوال : پوهاند بشیراحمد زکریا

ژباړه، تایپ او ډیزاین : رحمت آریا

لومړی چاپ په دري - ۱۳۹۳/۲۰۱۴ ل

لومړی چاپ په پښتو- ۲۰۱۴ /۱۳۹۳ل

تیراژهر یو - ۱۰۰۰ نسخي

خپرونکی: د دانش فرهنګي ټولنه، کابل

## په دغهٔ کتاب کې


د ليکوال مننه ............................................................ ح

د هېواد په وياړ څو دوبيتي ګانې ............................................ خ

تقريظ، کانديداکادميسين سيستاني ........................................... د-ذ-ر

تقريظ، استاد محمد معصوم هوتک، يو څو خبرې............................. ز- س

د ليکوال سريزه.................................................................. ش - ص

لومړی څپرکی.................................................................. ۱

دويم څپرکی.................................................................. ۱۲

دريیم څپرکی.................................................................. ۱۶

څلورم څپرکی.................................................................. ۲۳

پينځم څپرکی .................................................................. ۲۹

شپږم څپرکی.................................................................. ۳۳

اووم څپرکی.................................................................. ۴۵

اتم څپرکی .................................................................. ۵۶

نهم څپرکی.................................................................. ۶۱

لسم څپرکی.................................................................. ۶۶

يولسم څپرکی.................................................................. ۷۴

دولسم څپرکی.................................................................. ۸۳

ديارلسم څپرکی.................................................................. ۹۹

څوارلسم څپرکی.................................................................. ۱۱۵

پينځلسم څپرکی.................................................................. ۱۲۸

شپاړلسم څپرکی.................................................................. ۱۳۳

اووه لسم څپرکی.................................................................. ۱۳۹

د پوهاند زکريا د ژوندانه لنديز............................................... ۱۴۶-۱۴۷

د جوسيا هرلان د نثر يوه بېلګه يادداشت........................... ۱۴۸-۱۴۹

د ليكوال د اخځونو سرچينې............................................... ۱۵۰-۱۵۲

د ژباړونكي شرحې....................................................... ۱۵۹-۱۶۸

# مننه

لیکوال له دې لارې غواړي خپله مننه لاندنیو شخصیتونو ته وړاندې کړي چې ددغه تأریخي ناول په بېلابېلو برخو کې ئې خپله مرسته نه ده سپمولي : له تأریخپوه ښاغلي کاندید اکاډیمیسین محمد اعظم سیستاني، له استاد محمد معصوم هوتک، لیکوال او ادیب ښاغلي ډاکټر حمید سیماب څخه ځانګړې مننه. له نوښتګر، هڅاند ژباړونکي او لیکوال ښاغلي رحمت آریا څخه د بې ساري ژباړې په پار او له ښاغلي ولي احمد نوري څخه مننه کوم چې د افغان جرمن آنلاین په پورتال کې ئې ددغه کتاب د دري او پښتو متنونو په خپرولو کې مرسته کړې ده، او له ښاغلي عبدالحي پوپلزي څخه د جمرود په معرکې کې د سردار وزیر محمد اکبر خان د څېرې د انځورګرۍ او طرحې په اړوند منندوی یم چې ډېره ښکلې او واقعیت ته نېږدې طرحه ئې انځور کړې ده. د لروبر افغان د وېسایټ له مدیر ښاغلي عبدالله احسان څخه مننه چې ددغه تأریخي ناول د پښتو ژباړې په خپرولو کې ئې مرسته کړې ده. له خپل نېږدې دوست ښاغلي حامد نوید څخه مننه چې په خپلو انځوریزو طرحو ئې ددغه کتاب پاڼې پسوللي دي.

همدا شان غواړم د خپل ژوندانه شریکې او ګراني مېرمنې ته خپله د زړه له کومې مننه وړاندې کړم چې اړین وړاندیزونه او سمون ئې په متن کې راوړی دی، او هم له خپلو لونو، زامنو، وروڼو او د زکریا د کورنۍ له نورو ښاغلو غړو څخه منندوی یم.

ژباړونکي يادونه : دا شعر دوني ښکلی ، په زړهٔ پورې او په آسانه د پوهېدا دی چي ژباړې ته ئي اړتيا نهٔ وينم.

# چند چهار بیتی ملی

تو ای افغان فروغ مشرقستان    تنفر کن ازین تهذیب افرنج[1]
نفاق و کشت و خون است این تمدن    فریب و هیله را آخر بود رنج
تو ای افغان امید اهل دانش    زعیم و هم نعیم و هم سخن سنج
اگر یک ملت واحد شوی زود    بدست آری کلید قفل صد گنج
بیا افغان بیا بنگر جهان را    بقای ملیت موضوع جنگ است
حیات انفرادی را بقا نیست    برای نفع شخصی وقت تنگ است
بیا افغان بیا ای مرد آزاد    حیات انفرادی عار و ننگ است
زيي و خیل را کی می شناسد    وطن ازخون افغان لاله رنگ است
همه مفتون حسن اتفاقت    تو در فکر زيي و خیل تا کی
خراب دست خیل و فرقه جنگی    نشستن در ره این سیل تا کی
بیا افغان که با هم یار باشیم    برای این وطن غمخوار باشیم
زيي و خیل اکنون می نه باید    بیک دل ملت هوشیار باشیم

فیضی کابلی

[1]- افرنج د فرنگ او فرانگ معربه بڼه ده - ژ

## د کاندید اکادمیسین اعظم سیستاني تقریظ

## افغان شهزاده او زه " په افغانستان کي لومړنی امریکائي "

## د پوهاند زکریا اثر

افغان شهزاده او زه "په افغانستان کي لومړنی امریکائـي"، یو تأریخي ناول دی چي لیکوال ئـي ښاغلی پوهاند بشیر زکریا دی او د هېـواد یوه ډېـره مهمه تأریخي پېښـه ئـي په خورا خوندورو عالي ادبیاتو، د داستان په اډاني کي په ۱۷ څېړکیو او یوې سریزې کي رانغاړلې ده.

سره له دې چي پوهاند زکریا خپلې لوړې زده کړې په امریکا کي د کولمبیا په پوهنتون کي د طب په ډګر کي سر ته رسولي دي چي هم ډاکټر دی او هم استاد، او هم ئـي د طب په ډګر کي مهم طبي اختراعات کړي مګر د هېـواد د تأریخ او ادبـیاتو په ډګر کي هم ژورې پلټني لري چي بـېلګه ئـي همدا تأریخي ناول (افغان شهزاده او زه، لومړنی امریکائـي په افغانستان کي) ده؛ دا کتاب د لوستونکي پر مخ د بېلابـېلو پـېښـو کړکی پرانـیـزي او څرګندوي چي د افغانستان په دنګو غرنیو لمنو کي څومره درانده، ویاړمن، په زړهٔ پاک سپـېڅـلي برمیالي خلک ژوند و ژواک کوي، او تر هغو چي له چا بد ونـهٔ ویني تاوان ئـي چا ته نـهٔ رسـېږي، او د خپلې اقتصادي تنګسي په لرلو سره سره بیا هم مـېلمنو ته په ورین تندي ښـهٔ راغلاست وایي.

پوهاند زکریا ددغـهٔ تأریخي داستان اصلي متن په انګلیسي ژبې په ۱۷ څېړکیو کي لیکلی او وروسته نامتو افغان ژباړونکي او لیکوال ښاغلي رحمت آریا په دري او پښتو ژبو ژباړلی دی. ما د افغان جرمن آنلاین د پورتال له لارې خپور شوی دغه داستان چي په ښکلو او فصیحو ادبیاتو دواړو دري او پښتو ته ژباړل شوی، په دري ژبې ولوست.

له څون و څار پرته غواړم ددغـهٔ کتاب لیکوال (ښاغلي زکریا) ته د داستان د بیاني ښې او د پـېښـو د انځور له اړخه او ژباړونکي (ښاغلي آریا) ته چي له شک پرته ئـي ښکلې او روانه ژباړه وړاندې کړې، مبارکي ووایم.

لیکوال په خپلې سریزې کي لیکي : « په دغـهٔ تأریخي ناول کي زیاتره رانغاړل شوې پـېښـې زما د شخصـي کره کـتـنـو پر بنسټ شوي چي د څـېړني او پلـټـني په ترڅ کي مي موندلي او هم د هغو کسانو عیني شهود او خاطرات په ځان کي رانغاړي چي نوموړې پـېښـې ئـي په خپلو شخصي یادداشتونو کي ثبت کړي دي. ددې ناول نورې پـېښـې په حقیقت کي د هغو پـېښـو انځور دی چي تأریخ لیکونکو د خپلو ملي لـېـوالتیاوو او فرهنګي غوښـتـنو پر بنسټ په خپلو تألیفاتو او ژباړو کي راغبرګ کړي دي.» په دې پسي لیکوال د یو شمیر کتابونو او آثارو نومونه را اخلي چي د افغان - انګلیس (لومړی - ژ) جګړه ئـي د عیني شاهدانو له اقوالو ثبته کړې او یا په خپله په دغو پـېښـو کي ښـکـېـل ول چي په معجزوي ډول په پـېښـې کي ژوندي پاتې شوي او بیا ئـي خپل د سترګو لیدلی حال د خپلو خاطراتو په کتابونو کي ثبت او له نورو سره ئـي شریک کړي دي. ددغو آثارو ډېـری برخه تر اوسه هم موږ افغانانو ته ناڅرګنده او پټه ده او د ګوتو په شمار څو تنو افغان لیکوالانو او پوهانو ژباړلي او د افغان پرګنو مخي ته ئـي ایښي دي چي د هېـواد د تأریخ پر تیارو څنډو باندې رڼا اچوي. د بـېـلګې په توګې : د الکزاندر برنس منشي، کشمیري موهن لال په ۱۸۴۶ز کال کي د

(امیــــر دوست محمد خان) د ژوندانـهٔ تر نامـهٔ لاندې د افغان - انګلیس په جګړې کې خپل د سترګو لیدلی حال په دوه وو ټوکونــو کې په لندن کې لیکلی او د انګلستان ملکې ته ئې ډالی کړی دی. دا کتاب د خپل تألیف له نـېټـې ۱۶۰ کاله وروسته د ډاکټر سید خلیل الله هاشمیان په قلم په امریکا کې په ۲۰۰۲ز کال کې وژباړل او خپور شو. د انګلیسي لښکر د سیـاسي چارو د افسر «الډرډ پاټـنجر» خاطرات په ځان کې په کابل کې د مکناتن له وژل کېـدا وروسته د انګلیسي لښکر د وتلو لړی رانغاړي، دا د وتنګ هماغه لړی وه چې مکناتن له افغان لوري سره منلي وه. او هم د (جنرال سیل د مـېـرمنې) لیډي سیل ورځني خاطرات او هم د (فلشمن پـیـپـرز) تر نامـهٔ لاندې د یوهٔ بې باکه انګلیس سیلاني خاطرات دي چې په ۱۹۶۵ز کال کې د جیورج مکدونالد فریزر له پلوه د یوهٔ کتابګوټي په بڼې خپاره شول.

لیکوال زیاتوي :« تر ټولو په زړهٔ پورې دا ده چې د «جوسیا هرلان» په نامـهٔ د امریکا د پنسلوانیا د ایالت له یوهٔ بې باکه امریکائـي سیلاني ځخه هم یو کتاب پاتې دی چې خپل عیني او ډاډمن مشاهدات وړاندې کوي، دغه یادداشتونه د «بن مکنـتـایـر» په نامـهٔ د یوهٔ لیکوال له پلوه سمبال او په یوهٔ کتابګوټي کې خپاره شوي دي. ددې تر څنګ په دې ناول کې نـهٔ یوازې د افغان، کشمیري، پاکستان او هندي لیکوالانو تأریخي لیکنې بلکه د همدغـهٔ شهزادګي په اړوند هغه شفاهي داستانونه او افساني راټولې شوي چې د افغان کورنـېـو په منځ کې خپرې دي.»

په دې توګې لیدل کـېـږي چې د « افغان شهزاده او زه، په افغانستان کې د لومړني امریکائـي» داستان لیکوال د خپل کتاب محتویات د عیني شاهدانو د روایاتو او تأریخي سرچینو پر بنسټ راټول کړي او یوازې ئـې په داستاني ادب کې په داسې انځور کې رانغاړلي چې لوستنګ ئـې د نن ورځې ځوانانو ته چې د اوږدو مضمونو د لوستـنـې زغم نه لري ښکلی او په زړهٔ پورې وي. او په رښتیا چې لیکوال د یوهٔ مسلکي او متخصص سړي په توګې دا کار په بریا سر ته رسولی دی.

د تأریخي رومان په ژبې زموږ په هـېـواد کې د تأریخي پـېـښـو انځورول دود نه دي او د هـېـواد په ادبي ډګر کې یوه نوې نـښـرغانده «پدیده» ګڼل کـېـږي؛ ما د ډاکټر اکرم عثمان د (کوچـهٔ ما) له داستان پرته چې یو ښکلی اثر او د هـېـواد د وروستی نیمې پـېـړی پـېـښـې، د ادبي داستان په ژبې انځوروي د اوسنی داستان په بڼـهٔ والي بل تأریخي رومان نـهٔ دی لیدلی، له دې کبله کولی شم ووایم سره له دې چې د تأریخي داستان لیکلو په ډګر کې دا د پوهاند ډاکټر زکریا لومړنی اثر دی خو بیا هم په خپل کار کې ځکه په زښـتې ډېـرې ستایـنې بریالی راوتلی چې د داستان تومنه په خپله له کره تأریخي واقعیتونو سره همغږي لـري او ډېـر لـږ پـېـښـېـږي چې د کتاب لوستـنـې د ډګر مینه وال دې له نا آشنا پـېـښـو سره مخامخ شي؛ په ناول کې لږ شمیر نا آشنا نومونه یوازې ددې لپاره راغلي چې لوستونکی د لوستني پر مهال ستړی نه شي او دې ته ئـې نـهٔ پـرېـږدي چې کتاب پر ځمکې باندې کښـېـنـږدي.

د تأریخي داستانونو د کتابونو په منځ کې همدغـهٔ کتاب ته ورتـه کولی شو د (جګدلک د غچ اخیستونکو - انتقام جویان جګدلک) نوم یاد کړو چې د پخواني شوروي اتحاد د یوهٔ څـېـړونکي نفتولا خالفین اثر دی؛ نفتولا د ۱۸۴۱- ۱۸۴۲ز کلونو ترمنځ د افغان - انګلیس جګړې پـېـښـو ته لـېـوالتیا وښودله او په دې اړوند ئـې پراخې هر اړخیزې څـېـړنـې تر لاس لاندې ونیولې؛ بیا ئـې د خپلو پـلـټـنـو او څـېـړنو پایلو ته په همدغـهٔ نامـهٔ کتاب کې په زښت په زړهٔ پورې ډول غبرګون ورکړ، نفتولا خالفین خپل دا کتاب د ستاینې تر کچې لیکلی دی.

زما په اند که کله هم وغوښتل شي چې د افغان - انګلیس له لومړۍ جګړې څخه فلم جوړ شي د پوهاند ډاکټر زکریا له اثر (افغان شهزاده او زه «په افغانستان کې لومړني امریکائـي») او هم د نفتولا خالفین (د جګلـدک د غچ اخیستونکو) له اثر پورته بل اثر نـهٔ موندل کـېـږي. کولی شم ووایم چې د همداسې یوهٔ فلم سناریو مخکې له مخکې ددغو دوو پیاوړو لیکوالانو له پلوه چمتو ده یوازې یوهٔ ماهر ډایرکټر ته اړتیا ده چې له قوې څخه ئـې فعل ته راواړوي او د افغان - انګلیس د لومړۍ جګړې د ډګر د اتلانو بریاوو او ناکامیو ته یوه تانده ساه ورکاندي.

ما دغه په زړۀ پورې تأريخي داستان له سره تر پايه ولوست او په ځينو ځايونو کې چې ما ته د پوښتـني وړ ول خپل وړانديزونه مې د پوهاند صاحب حضور ته وړاندې کړل او هغوی هم په ورين تندي ومنل او د انګليسي، پښتو او دري په متنونو کې ئې اړين سمونونه راوستل.

هغه څـۀ چې د کتاب په سريـزې کې زما په انـد لږ ښکاري دا ده چې د داستان ليکوال نـۀ دي ويلي چې د داستان له ليکلو څخه ئـې موخه څـۀ وه؟ آيا غوښتـي ئـې دي له افغانستان سره د امريکا د دوستی او همکارئ د ټينګښت په موخې يو شمير سوابق وپلټي او څرګنده کړي چې ګڼې افغانان له پخوا هم د امريکا له مرستو برخمن ول او د امريکا د پرګنو مخې ته ئـې کښېـږدي، او د امريکا مرستو ته د افغانستان د پرګنو پاملرنه راواړوي او يا ئـې کومه بله موخه درلودله؟ هر ګوره، که ليکوال خپلـه موخه ليکلې وای نو ښـۀ کار کېـدۀ.

ښاغلي پوهاند بشير زکريا ته په ژوندانـۀ کې لا برياوې غواړم.

**پای**

**کانديد اکادميسين سيستاني**

**ګوتـنبرګ سويدن ۲۲/ ۲/۲۰۱۴**

# يوځوخبري

دا اثر چي د ښاغلي پوهاند ډاکټر بشيراحمد زکريا په لاس په انګرېزي ژبه ليکل سوی او د ښاغلي رحمت آريا په پياوړي قلم په دري او پښتو ژباړل سوی دئ، يو تاريخي داستان دئ چي مرکزي کرکټر ئي د افغان ـ انګليس د لومړی جګړي اتل وزيرمحمد اکبرخان (۱۸۱۶ ـ ۱۸۴۷ع) دئ. غازي وزير محمد اکبرخان د امير دوست محمد خان دوهم زوی وو. مـور ئـي بي بي خديجه نوميږدله چي پخپله کورنی کي ئي (بي بي خجو) بلله او د خپل توريالي زوی غازي وزيرمحمد اکبرخان له اسيته په اولس کي د ( مادرِ وزير) په نامه مشهوره وه. بي بي خديجه د حاجي رحمت الله خان باميزي لور او د حاجي دريا خان لمسی وه.

د بارکزو د واکمنی په ټوله دوره کي د نورو ملي افغاني شخصيتو په لړ کي د وزيرمحمد اکبر خان او د هغه د وراره غازي محمد ايوب خان نومونه د ملي اتلانو په توګه ثبت دي. وزير محمد اکبرخان هغه وياړلی اتل دئ چي پخپل ژوند کي لاهم خلکو ورته دهيواد د ناجي په سترګه کتل او تر شهادت وروسته خو ئي نوم سمدستي اولسي ادبياتو ته لاهم لار وموندله. ښځمنو ئي په ياد لنډۍ وويلي :

د اکبرخان غازي په توره

وطن رڼاسو دښمنان په ماتي ځينه

د اولسونو دغه درناوی هسي يوعاطفي او احساساتي عمل نـهٔ وو، بلکي د وزير اکبرخان دهغو قهرمانيو نتيجه وه چي په ۱۸۳۴ع کال ئي د کندهار په جګړه کي د سدوزي شاه شجاع د بدرګه انګرېزي لښکر په مقابل کي، په ۱۸۳۷ ع کال د جمرود په تاريخي غزا کي د هري سنګهـ سره د تن په تن جګړي پر مهال او په ۱۸۴۱ع کال په کابل کي د مکناټن د وژلو پروخت ښوولي وي.

ختيځوال د خپلواتلانو قهرمانۍ د جنګنامو په ويلو سره ستايي. جنګنامي او ښادنامي هغه مډالونه او جوغي دي چي اولسونه ئي خپلو اتلانو ته ډالۍ کوي. غازي اکبرخان هم په دغو ډاليو نازول سوی وو او د نورو پراخو منظومو ښادنامو پرڅنګ ئي د کشميري حميد ضخيمه اکبرنامه زموږ د هېـواد په تاريخي آثارو کي يومعتبر اثر دئ چي په نظم کښل سوی دئ (۱۲۶۰ هـ ق = ۱۸۴۳ع). د خوشالی خبره ده چي د دغي اکبرنامي منظومه پښتو ژباړه د غازي اکبر خان تر شهادت (۱۰۵) کاله وروسته د کندهار د يوه حقدار ښوونکي او شاعر ملا جانان کاکړ (۱۸۹۶ ـ ۱۹۸۵ع) په قلم بشپړه سوه او تر اوږده انتظار وروسته دري کاله پخوا د ډاکټر عبدالرؤف رفيقي په همت چاپ سوه.

د لاخوشالی خبره بيا داده چي دافغانستان دملي وياړونو يو بل مدافع پوهاند ډاکټر بشير احمد زکريا له خپل پلرني هيواد څخه په زرو کيلومتره ليري د دغه ملي اتل کارنامي په يوهٔ تأريخي داستان کي په انګرېزي، دري او پښتو ژبو خپروي. ددې داستان محتوا ترزياتي اندازي پرهغو يادښتو ولاړه ده چي امريکايي جوسياهرلان (۱۷۹۹ ـ ۱۸۷۱ع) راته پرې ايښي دي. البته پوهاند صاحب په دې داستان کي دهرلان پر يادښتوسربېره د ځينو نورو معتبرو کورنيو اوبهرنيو آثارو حوالي هم لري.

زه په داسي حال کي ددې داستان د ليکلو مبارکي پوهاند بشيرزکريا ته ورکوم چي نوموړی د يوې سختي ناروغی له اسيته په روغتون کي بستردئ. پاک خدای دې عاجله شفاپه برخه کړي. دغه راز د داستان دري او پښتو ژباړونکي ښاغلي رحمت آريا ته هم ددغهٔ درانـهٔ کار د بشپړولو له بابته د زړه له کومي مبارکي وايم .له خدايه غواړم چي قلم ئي د نورو درنوآثارو په ليکلو اوژباړلو کي د تل په شان پياوړی واوسي.

محمد معصوم هوتک

آشاوا ـ انټاریو ـ کاناډا

۱۷ مه داکتوبر ۲۰۱۴ع

# د ليکوال سريزه

په دغـهٔ ناول کې ډېرې رانغاړل شوې پېښې زما د شخصي کره کتـنو انځور دی چې د خپلو څېړنو او پلټـنو په ترڅ کې مې موندلي دي او هم د هغو عيني شهودو او هغو کسانو د خاطراتو او يادداشتونو انځور دی چې نوموړې پېښـې ئـې په خپلو يادداشت ليکنو کې ثبت کړي دي. ددې ناول پاتې نورې پېښـې په حقيقت کې د هغو پېښـو بيا پنځونه ده چې تأريخ ليکونکو د خپلو فرهنګي غوښـتـنو او ملي لېـوالتياوو پر بنسټ له تأليف او ژباړې وروسته پنځولې دي. ددې تر څنګ بايد وويل شي چې د ختيځې نړۍ د معرفت لمنه له هغو رواياتو ډکه ده چې سينه په سينه او نسل په نسل يو بل ته لېـږدېدلي دي.

تاسو پوهـېږئ چې پـېـرنګيو ليکوالانو د افغان - انګليس د لومړۍ جګړې ډېرې پېښـې په خپلو خاطراتو کې ثبت کړي دي لکه نامتو پـېـرنګۍ، مـېـرمن فلورنشا سيل[1] چې د «لـيـډي سيل[2]» په نامـهٔ په لنډون پـېـژندل شوې او د تورن جنرال سر رابرټ هينري سيل[3] مانديـنه وه؛ لـيـډي سيل د خپلو خاطراتو ډېرۍ برخه د خپلو ورځنيو خاطراتو په کتابچې کې ليکلې دي. او يا موهن لال[4] هغه لومړنی نامتو هندی وو چې خپلې زده کړې ئـې په انګليسي ژبې بشپړې کړې او د پـېـرنګي استخباراتو د مأمور سر الکسندر برنس[5] منشي وو، نوموړی هماغه په ختـه هندی پـېـرنګی ځری «جاسوس» دی چې د خپلو خاطراتو ټولګه ئـې په يوهٔ کتاب کې وليکله او کتاب ئـې د انګلستان ملکې عليا حضرتې[6] ته په وياړ ډالۍ کړ. ډګرمن الدرډ پاټـنـجـر[7] يو بل پـېـرنګی دی چې د افغان - انګليس په لومړۍ جګړې کې د ونډې په لوبولو، د خپلو سترګو ليدلی حال، کتنې او خاطرات وليکل. د پاټـنجر خاطرات د « پټريک او مکروري[8]» او د هغـهٔ د ورونو له پلوه په بې پَرې ډول چاپ شول، دا دواړه د ډګرمن الډرډ پاټـنجر د ورور کړوسيان دي. په ۱۹۶۵ز کال کې جيورج مکدونالډ فريزر[9] د ۱۸۳۹- ۱۸۴۴ ز کلونو د جګړو د پېښـو شرحه په ليسترشاير[10] کې وموندله چې د يوهٔ انګليس سيلاني د خاطراتو په دفتر کې ثبت او د «فلشمن پـيـپرز[11]» په نامـهٔ پـېـژندل کـېـږي. خو په ټولو کې په زړهٔ

---

[1] - Florentia Sale

[2] - Lady Sale

[3] - Major General Sir Robert Henry Sale

[4] - Mohan Lal

[5] - Sir Alexander Burnes

[6] - Her Majesty Queen of England

[7] - Brigadier Eldred Pottinger

[8] - Patrick Macrory

[9] - George MacDonald Fraser

[10] - Leicestershire : پـهٔ وچې کې راګير د انګلستان يو ښارګوټی دی – ژ

[11] - Flashman Papers

پورې دا ده چې د امريکا د پنسلوانيا له ايالته د «جوسيا هرلان[1]» په نامـهٔ يوهٔ امريکايي هم له ځانه يو کتاب پرې ايښی دی چې له پـښتـو ښخه د خپلو سترګو د ليدلي حال شرحه، په يوه ډېرمنه ژبه وړاندې کوي؛ دغه يادداشتونه د «بن مکنتاير[2]» په نامـهٔ يوهٔ ليکوال سمبال او د يوهٔ کتابګوټي په بڼې ئـې خپاره کړل. له دې سره جوخت په دغـهٔ ناول کې نـهٔ يوازې د افغان، کشميري، پاکستاني او هندي ليکوالانو تأريخي ليکنې رانغاړل شوي بلکه په دغـهٔ شهزادګي پورې اړوند هغه شفاهي افساني او داستانونه هم راټول شوي چې د افغان کورنـيـو په منځ کې خولـهٔ په خولـهٔ ګرځي.

په پای کې د يادونې وړ بولم چې د همدغـهٔ تأريخي ناول په لړ کې هڅه شوې چې د ۱۸۳۹- ۱۸۴۲ ز کلونو د پـښتـو د لـړۍ غټې برخې تر شوني کچې په داستاني ژبې په ځـيـر وپنځول شي. يو شمير کرکترونو ته داستاني نومونه غوره شوي خو پاتې نور تأريخي نومونه دقيقاً په خپل هماغـهٔ تأريخي اصليت ساتل شوي دي. د اشخاصو نومونه تر شوني کچې له خپل ربښتوني تأريخ سره په همغږۍ کې له کمښت و زيادښت پرته ساتل شوي او يو شمير نومونو ته لنډيز غوره شوی دی؛ په دې توګې يوازې څو نومونه دي چې ځانته داستاني بڼه راخپلوي. ليکوال د کتاب په پای کې خپلې سرچينې او اخځونه ياد کړي دي. ليکوال د هغو نومونو، سيمو او يا ځانګړو کسانو د نومونو د سموالي - کره والي مدعی نـهٔ دی چې په وړوکو پـښتـو کې ښکيل ول.

---

[1] - Josiah Harlan

[2] - Ben Macintyre

# لومړی څپرکی

د فبروري د میاشتي یو لمرین سهار وو چي د بمبئـی بندر د کښتـیـو په لنګر ځای کي له بېړۍ څخه راکوز او نېـغ د ختیځ هند د کمپنۍ د لښکرکوټ « ګارنیزیون » د دفترونو پر لور وخوځېـدلم؛ له ځُغو دفترونو سره د خپلي مخکنۍ کتـني په ترڅ کي آشنا وم. دغـهٔ ځای ته زما راتګ د هندوستان د اقلیم له تر ټولو ښکلي فصل سره سمون خوړ، ځکه چي تودوخه او لنده-بَل دواړه د زغم تر کچي ښـهٔ ول. په هندوستان کي د «مي» میاشت کټ مټ زموږ د کالـهـیـنداري په شان د خوښـېـو او د وَدونو د وراګانو میاشت ده. هر ګوټ ته چي ګورې د خلکو د خوښـېـو لوړ غږونه د چنچنو د شخول په شان خپاره دي، هر لور ته چي ګورې د شپېلـېـو د غږونو شور، د ډهلونو درَزهار او د ټنګ ټکور کرنګ او درَب او په خوشالیو کي د ډوبو بدرګه وراګانو تنـتـناوې او ولولي اوریدل کېـږي چي په وَدونو کي د ناویانو ډولۍ ګاني په خوښـی او خوشالۍ خپلو کورونو ته رسوي. له دي ګرمسیره ښاره زما وروستۍ لیدنه، د ۱۸۳۰ز. لسیزي په نیماییو کي ختیځ ته زما د لومړي سفر په ترڅ کي وه چي له کانټون[15] څخه چین ته او له هغـهٔ ځایه هندوستان ته د کلکتي او بمبئـي ښارونو ته لاړم.

بمبئـي ته زما د وروستي سفر په لړ کي ول چي د برتانيي د پوځي لښکر له جراح، ډاکټر ویلیم کاردیو[16] سره آشنا سوم؛ زما له موخو سره همغږي ډاکټر کاردیو راباندي ډېره پېـرزوینه درلودله. کلـه چي د مرکزي لښکرکوټ کتنځي (کلنیک) ته ورسېـدم، یوهٔ تریو مخي ستړي ستومانه پېـرنګي افسر چي له ګرځندي نلی «پایپ» څخه ئـي د تنباکو لوګی خوت راته وویل : ډاکټر نیم ساعت مخکي په خپلي یوي آسه بګۍ کي کالـهٔ ته تللی دی او یوه سه چي کور خو ئـي له ښاره دباندي دی نو. نوموړي افسر په خپل هماغـهٔ آمرانه آشنا برتانوي غږ چي تراخه ژبه ورسره بدرګه وه، وویل:

" که غواړې ډاکټر ووینې نو خپل کاغذونه دې د ډاکټر د کتنځي د دروازې تر څنګ ځړېـدلي بکس کي کښېـږده او سبا له غرمي مخکي ورته نېـغ او په تراټ راسه."

په سبا ورځ مي د پخوانی بولنی «قوماندې» په مرکز د ختیځ هند د کمپنۍ د توپخانې په فرقې کي نوملیکنه وکړه او په خپلي بنګلي کي د کالیو له ځای پر ځای کولو او هم د یونیفورم له تر لاسه کولو وروسته د ډاکټر دروازه ورو وټکوله، ډاکټر په لوړ غږ خو په خوږې ژبې وویل :" څوک یاست؟... راځئ." پرده لرونکي دروازه مي ورو خلاصه کړه او نېـغ د هغه د کار- وَنج «میز» مخي ته ودرېدم؛ د انګلیسي سرتېـرې په شان مي په ځانګړې سلامی وویل : " صاحبه! براین فیـتـځ جرلـډ[17]، د پوځي طب افسر. هیله من یم زه به مو په یاد اوسم؛ نېـږدې دوه کاله مخکي ستاسو اسیستانت وم. د ځانګړې رخصتی له کبله د پنسلوانیا چستـر[18] ته خپل کالـهٔ ته لاړم او پروسږکال مي

---

[15] - Canton

[16] - Dr. William Cardew

[17] - Brian Fitzgerald

[18] - Chester, Pennsylvania

د برما[19] په کمپاین کي چوپړ هم وکړ. صاحبه! همدا پرون بېرته راستون شوم چي ستاسو تر لاربښوني لاندي چوپړ تر سره کړم. ډاکټر په خپل آکسفورډي ګړدود، په ډېر غږ وويل :

ډېر ښـهٔ زويه. ښـهٔ دي په ياد لرم ګرانه. خوښ يم چي خوشالـه او سلطنت ته دي د چوپړ لپاره چمتو وينم. ستا پاڼي مي ولوستلي. وينم چي په کلکتي کي دي خپل د طبابت فراغت ليک هم تر لاسه کړی دی. آفرين پر تا. کولی شي زموږ د جراحي په کتنځي کي د مرستيال ډاکټـر په توګي خپلي دندي ته دوام ورکړي، که دي کوم شي ته اړتيا لرله، ما ورباندي خبر که. ښه نو، په پنسلوانيا کي ستا دوستان او ورور دي ريچرډ[20] په څه حال کي وو؟

په ځواب کي مي وويل : " ښاغلی ډاکټر! ټول دوستان مي ښـهٔ ول او ورور مي ريچرډ هم له کلکتي څخه کالـهٔ ته راستون شوی وو؛ په پنسلوانيا کي د طب پوهنځي ته تللی دی، هغه هم هيله لري چي يوه ورځ جراح سي."

ډاکټر کارډ: " زويه ! تا هم ښـهٔ کار کړی دی. تـهٔ به هم له خيره سره يو ښـهٔ جراح سي."

په ځواب کي مي وويل :" هو صاحبه! دا هماغه څـه دي چي هيله ئـي لرم، خامخا ستاسو مرسته او لاربښونه به راسره ملګري وي."

ډاکټر کارډ : " هو زويه، ورځه خپل کار ته دي، ځان سم چمتو که، ډېـره شوني ښکاري چي په نـېږدي راتلونکي کي د سوداګريزي لاري د پرانيستلو لپاره د يوهٔ پوځي خوځښت په ترڅ کي له بمبـئـي څخه د اندس د سيند پر لور وخوځـېـږو."

په هېښـندي هک پک تيا مي وپوښتل :

" صاحبه!، رښتيا واياست؟ دا خو خورا ښـهٔ کار دی! هيله من يم ستاسو په کنډک کي چوپړ وکم. خو اوس به ستاسو په اجازي خپل کار ته ستون سم."

ډاکټر کارډ په ځواب کي وويل : زويه! په ياد دي اوسه چي د اندس پر لور د خوځښت خبره يوازي ګنګوسه ده او درته ټينګه سپارښتنه کوم چي دا خبره درسره پټه وساته.

له خـنـډ پرته مي ځواب ورکړ:" صاحبه! کولای شئ پر ما ډاډ وکړئ، ستاسو له ډاډ څخه مننـدوی يم."

دا ځل مي د مخکيني پوځي سلام په پرتلي لا ټينګه سلامي وکړه، ښه مي ښه کلکه پر ځمکي ووهله او له بوټانو مي ښه ټينګ کړس وايست او په موسکو شونډو ئـي له دفتره په پوځي تراټ ووتلم. ددې خبر په اورېدلو خوښ وم چي د يوهٔ اوږده سفر په ترڅ کي به د اندس د ستر سيند پر لور وخوځـېـږم. په ژونـدانـهٔ کي داسي شـېـبې يوازي يو ځل لاس ته راځي. لنډه دا چي ددغـهٔ خبر په اورېدلو په خپلو جامو کي نه ځاييدم او دا مي د خپلو هيلو او خوبونو د رښتيا کـېـدلو يو ځرک ګڼـهٔ.

---

[19] - Burma

[20] - Richard


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکي په ځير و لولئ

ځو میاشتې مې د ډاکټر کارډ د مرستیال ډاکټر په توګې پر له پسې کار وکړ. له ډاکټر کارډ سره د چوپړ په لومړي پړاو کې مې هر هغه څـهٔ چې په طبابت کې زده کړي ول زما د ورور ریچرډ د طبي کتابونو له مخې ول چې د سمندري سفر په لړ کې مې د کښـتـۍ په منځ کې ویلي ول او هم کنتون، چین او هندوستان ته په سوداګریزو کښـتیو کې د سمندري یون پر مهال د ناروغو ماڼو ګانو د درملنې په ترڅ کې مې د بصري کتنو او تجربو یوه ټولګه راغونډه کړې وه. له فیلادلفیا څخه زما لومړنی سمندري سفر زما د پلار په مرستې راته جوړ شو، هغه مهال مې په سوداګریزو بـېـړېـو کې د پلورنګ د مأمور په توګې کار پـېـل کړ. باید ووایم چې د نورو ټولو سفرونو په پرتلې مې ددغو سفرونو په لړ کې طبابت ډېـر زده کړ.

د څو کالو له تـېـرېدو وروسته د وړوکو جراحیو او په یوازې سر مې د ډېـرو طبي ستونزو د حل وړتیا تر لاسه کړه؛ په دې لارې کې ډاکټر کارډ راسره ډېـره مرسته کوله. له ماښامي ترړمۍ سره سم به مې د خپلو کتابونو ترڅنګ ولاړه تیلي لمپه بله کړه او د لمپې تر رڼا لاندې به مې د افلاطون، د پلوتارک تأریخ، د شکسپیر، بیرک[21] او پلیني[22] کتابونه لوستل او د لاتینې، یونانۍ او فرانسوۍ ژبو تمرین به مې کاوهٔ. ددې تر څنګ به مې د هند و چین تواریخ په ډېـر تـَوښ او لـېـوالتیا لوستل. د ښوونځي د لیسې پر مهال مې د پلوتارک[23] کتاب د " سکندر پـَیـر[24]" لوستی وو، له همدې کبله ول چې د کوینتس کورتیس رُفـُس[25] کتاب، " د الکسندر تأریخ[26]" به مې تل له ځان سره ګرځاوهٔ. که رښتیا ئـې سي زما دغې توسندې لـېـوالتیا، د الکسندر په شان، د نامتو کسانو له نومونو سره زما د توښناکې مینې یوه بڼیالۍ «رنګینه» برخه ډاګیزه کوله. د تنکۍ ځوانۍ د پـېـل پر مهال به مې د دلاویر[27] د سیند ښکلې غاړې ته د ګوښې ګوټ د لټون په موخې ودانګل، هلته به خوب او پریښاني دواړه لکه غبرګولې پرښتې راباندې زورَورې سوې، په خپلو پَستو ګلورینو وزرونو به ئـې سپورم کړم او د بڼیالي بوډۍ ټال په شان به ئـې د خپلو سپـېـڅلو نالیدلو هیلو په خوبونو کې ډوب یوې نالیدلې ناکتلې نړۍ ته بوتلم، یوازې یوې هیلې مې په ناکرار زړګي کې ټوپونه وهل چې کله به یوه ورځ د الکسندر په شان یو ستر سړی سم. کله کله به د امریکا د انقلاب او د امریکا د نړۍ وال اساسي قانون په هکله د ځپاندو فکرونو په خیالي بـېـړۍ کې سپور سوم او دا هیله به مې به مې په زړهٔ کې نڅـېـدله چې د امریکا د اساسي قانون نړۍ واله تومنه " ټولو انسانو ته د ژوند او ژواک، خپلواکۍ او ولسواکۍ نه بـېـلـېـدونکي حقوق" د آسیا تر ټولو لـېـرې ګوټ پورې ورسوم.

---

[21]- Burke : بشپړ نوم ئـې ادموند بیرک دی چې پـهٔ ۱۷۲۹ز کال کې زېـږېـدلی او پـهٔ ۱۷۹۷ز کال کې پـهٔ انګلستان کې مړ شوی دی. سیاستوال، د سیاسي فلسفې تیوریسن او اندیال او زړهٔ ور ټولنیز ویاند وو. بیرک پـهٔ سیاست کې د محافظه کارۍ پلار ګڼل شوی دی. - ژ

[22] - Pliny

[23] - Plutarch

[24] - The Age of Alexander

[25] - Quintus Curtius Rufus

[26] - The History of Alexander

[27] - Delaware River


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په څیر و لولئ

ځو میاشتي وروسته دغو ګنګوسو لا زور واخیست او ویل کېدل چي نـۀ یوازي د اندس د سیند لاره به د سوداګرۍ د بهیر پر مخ پرانیستل شي بلکه افغانستان ته د لاسرسی لپاره به پر افغانستان باندي یو ستر لښکر تېری وکړي. تر دي شېبې پوري دا د برتانیې د ستروالکی یو لوی او پیاوړی لښکر وو چي د برتانیې د لومړي لارډ، اکلند او د هندوستان د ګورنر جنرال جلالتمآب جیورج ایډن[28] له پلوه د " اندس" د " ستر" لښکر[29] په نامـۀ نومول شوی وو. له دي ګنګوسي سره بله غبرګه ګنګوسه هم غوږ تر غوږه کېدله او ویل کېدل چي دا ستر لښکر به د افغانستان د نیواک تر څنګ د تزاري روسیې او د فارس د ټلوالي پر وړاندي ځکه وجنګېږي چي د برتانوي هند پر وړاندي ددي ټلوالي د ګواښ جرړي وباسي. په لندن کي پنځول شوي دي ستراتیژۍ په خپلو کړښو کي وړاندوینه کړې وه چي دا به په راتلونکو سلو کلونو کي په هندوستان کي د برتانیې ځواک ټینګ او ډاډمن کړي.

زه چي د پنسلوانیا د نیولین له ټاون شپ[30] څخه یو امـریکائـي وم او غور نیکـۀ مي په ۱۷۷۶ز کال کي د امریکا د استقلال په لومړۍ جګړې کي او پلار مي په ۱۸۱۲ ز کال کي د امریکا د استقلال په دویمي جګړې کي ونډه اخیستي وه او دواړه جګړې د برتانویانو پر وړاندي وې هېڅ مي له داسي بیحد و حصره امپریالیزم او د هغـۀ له ځانغوښتني سره همغږي او همفکري نـۀ درلودله. نامتو پېـرنګي افسر جان کالوین[31] دغه هېښنده احساس په دغو ټکیو بیان کړی دی :" نړۍ لا تر اوسه د برتانوي هند د امپراتورۍ په شان بله داسي لویه ستروالکي نه ده لیدلي، خو داسي ښکاري هغي ماجرا چي خپله لمنه ئـي نـېـږدي سل کاله مخکي په ختیځ کي خپره کړي نور هېڅ پای نه لري."

په پای کي د ۱۸۳۸ز کال د دوبي له راتګ سره سم ول چي په ټول هندوستان کي د برتانیې په سلګونو پوځي کمپونو او لښکرکوټونو کي د پوځي خوځښت لپاره د تابیا او سبمالتیا لړۍ پـېـل سوه. «افغانستان د برتاینې تر قیمومیت لاندي» لښکري خوځښت خپلي چاري په ښـۀ ډول پـېـل کړي. په هندوستان کي چي د سرتـېـرو شمیر یو سلو نوي زره وو، دوه سوه درو زرو ته لوړ سو. د ۱۸۳۸ز کال د سپتمبر د میاشتي په لسمي نـېـټـي لارډ اکلنډ[32] د خپل لښکر لوی درستیز تورن جنرال سرهنري فین[33] ته لارښوونه وکړه چي خپل ستر پوځي ځواک دي د افغانستان پر لور د مارش لپاره راوبولي. خو جنرال فین د ډیلي په شمال کرنال[34] کي د پوځي کندکونو له غوره کولو وروسته له خپله کاره استعفی وکړه، د جګړي له ډګره ئـي پښه سپکه او بـېـرته انګلستان ته ستون شو. جنرال فین په دي جګړي کي د بري د ترلاسه کولو شونتیا نـۀ لیدله. نوموړی د لنډ مهالي ګورنرجنرال سرچارلس مِتکـَف سره چي په پام کي وه خپلـه دنده پرېږدي همغږی وو، سرچارلس مِتکَـف لیکلي ول :" ویره مي په دي کي ده چي

---

[28] - His Excellency George Eden, the First Earl of Auckland and the Governor-General of India

[29] - grand "Army of Indus"

[30] - Newlin Township, Pennsylvania

[31] - John Colvin

[32] - Lord Auckland

[33] - Lt. General Sir Henry Fane

[34] - Karnal


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

موږ به دداسي تېري او لاسوهني په لومي کي راښکېل سو چي هېڅکله به ئې له منګولو څخه د راوتنګ توان ونه لرو..."

ګورنرجنرال لارډ اکلنډ په بېړي د بمبئي ځواکونو بولندوی سرجان کین[35] د اندس د ستر لښکر د سرلښکر په توګي وټاګه. دا سويلي لښکر[36] له دغو ځواکونو جوړ وو :" د سپرو سرتېرو يوه لېوا، د توپخاني دوې لېواوې او د پليو سرتېرو يوه لېوا؛ ددې تر څنګ د مَلکي د آس سپرو سرتېرو يوه لېوا چي څلورم ښامار[37] نومېدله، د مَلکي د پلي لښکر يوه لېوا چي دويمه لېوا نومېدله، سلطنتي پلي سرتېري او اووه لسمه لېوا هم ددې لښکر په ليکو کي وه." له شمال څخه د لښکر په برخي کي د بنګال عسکري فرقي وې چي په ليکو کي ئې دغه ډلي راتللې : د توپخاني يوه لېوا، د سپرو سرتېرو او د پليو سرتېرو دوې فرقې، د ملکي د لښکر په استازيتوب د شلګرو (نيزه دارانو) شپاړلسمه لېوا، د پليو سرتېرو ديارلسمه لېوا او د ضربتي ګوزار دريمه لېوا راتلله؛ ددې لښکر اروپايي څانګي په ځان کي په سپکو وسلو سمبال د سپرو سرتېرو دوه غنډونه او د (هندي پلي لښکر) د سپاهيانو د کمپنۍ دولس کنډکونه رانغاړل.

موږ چي د سويلي ځواک له برخي څخه وو د سترو برتانوي جنګي بېړېو د يوې ډلي په ملتيا چي ۵۶۰۰ سرتېري ئې لېږدول د هندوستان د لويديزو کڅونو «سواحلو» پر لور وخوځېدلو. د هند په څۀ ناڅۀ توفاني او څپاند سمندر کي له دوو اونېو سمندري يون وروسته بحيرة العرب ته ورسېدلو او بيا د ټاټا په ختيځ کي د اندس د سيند په دلتا ورګډ شوو، د ټهټه[38] بندري ښار وروسته د کراچي په نامۀ ونومول شو. زموږ جنګي بېړۍ له درو ډلو جنګي بېړېو څخه جوړې شوې وې چي په بندر کي تر يوې اونۍ پورې د تابيا او بار تړلو لپاره دمه شوې او بيا ددې سيند د تورو اوبو د څپانده بهير د لورې برخلاف وخوځېدلې. پاتې نور سرتېري چي له بدرګه بېړېو څخه پلي شوي ول په موږ پسې د سيند د دواړو غاړو په څنډو کي پلي راوخوځېدل او خپل يون ته ئې دوام ورکړ. د اندس سيند د تبت د لوړو څوکو له شمالي خولې څخه راپېلېږي چي د خپل تګلورې دوه په سلو کي لاره په چين کي او پاتې ۹۸ په سلو کي لاره چي نېږدې دوه زره مايله کېږي په هندوستان کي پر مخ وهي. زه د توپخاني له خپل کنډک سره په هغې بېړۍ کي وم چي د سمندري ځواکونو مشر «امير البحر» هم په کي وو. زموږ بېړۍ وال «د بېړۍ کپټان» چغندر وزمه سور بخون مخ او ګوربت وزمه چنګه پوزه درلودله، په تنه ستر او پنډ سکاتلندی سړی وو، پر بارخوګانو ئې سرۀ - نارنج وزمه څپاند ويښتان څرېدل چي ددۀ دواړه بارخوګان، مخ او ان خولـۀ ئې ور پټولـه، کټ مټ يوۀ خښمېدلي ښامار ته ورته وو چي له خولې ئې سرۀ اور غراندې وهلي. کپټان مک کورډ[39] د مَلکي د سمندري ځواکونو د ماڼو ګانو په منځ کي تر ټولو تکړه، پوۀ او ښاغلی کپټان وو چي د اندس د سيند پر لور زموږ د وړوکو جنګي بېړېو د لارښووني لپاره غوره شوی وو؛ د هغه تر مخ ډېري ننګوني پرتي

[35] - Sir John Keane

[36] - southern army

[37] - Queen’s cavalry, the 4th Dragoon

[38] - Thatta

[39] - Captain McCord


maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

وي، دا ځکه چې الکسندر برنس[40] په دې سیند کې د بېړېو چلولو لپاره خپله لومړنی پلټنه نه وه بشپړه کړې، افغانستان ته د لومړني سفر په لړ کې زه له الکسندر برنس سره بدرګه وم. موږ په دلتا کې له سره تر پایه لاره ووهله او په اوبو کې له څلور ورځني سفر وروسته خپل بل تمځي حیدر آباد ته ورسېدلو. ددغو ناپېژندل شویو نا پلټل شویو اوبو د تګلوري په هرګام کې د اوبو توندو غړغړاندو څپو زموږ پر بېړۍ باندې یرغل کاوۀ. زموږ بېړۍ چې د لوړو ژورو ډک سیند د اوبو د تګلوري پر خلاف ئې خوځښت کاوۀ، دم په دم خپل ګړندوالی له لاسه ورکاوۀ، لنډه دا چې بل ښارګوټي شکارپور ته ورسېدلو او بېړېو لنګر واچاوۀ. د شکارپور په ښارګوټي کې زموږ دَمې دولس ورځې ونیولې. د تابیا، بارتړلو او له یو ځـۀ هوساینې وروسته زموږ د بېړېو ډلې، شمال خوا ته د غازیخان د دېرې پر لور وخوځېدلې. په دې برخې کې د اوبو پر مخ د اوبو د بهېدنګ لړۍ په محسوس ډول په سترګو کېږي او په هر ګام کې به چې زموږ بېړۍ د سیند څنډو ته نېږدې کېدلې نو بېړېو به له کړیغو ډک ټکانونه خوړل. داسې شېبې هم راغلې چې زموږ بېړۍ د سیند په دواړو غاړو کې د سندهـ د بومې وګړو کتارونو په ټینګو پرېړو رَسیو مخ پورته کشولې؛ په حقیقت کې زموږ بېړۍ د سیند په بستر کې د اوبو د چټک خوځښت او یاغي څپو پر وړاندې لاس او ګریوان وې؛ دا ځل په اوبو کې زموږ یون دوې اونۍ ونیولې. په پای کې د غازیخان د دېرې پر لور مو نیمایي لاره وهلې وه خو د اندس او ستلج د سیندونو د پیوستون په ټکي کې پریکړه وشوه چې له دې ټکي پورته جنګي بېړېو ته د شمال پر لور تګ نور خوندي نه دي. نو ځکه د بمبئـي اردو په دوه وو څانګو وویشل شوه. یوه څانګه ئې د لویدیز پر لور وخوځېدله چې د بولان له تلنګ (معبر) څخه په تېرېدلو د کلات او کندهار پر لور په پلي مزل افغانستان ته ننوځي. د لښکر بلې څانګې چې زه هم ورسره بدرګه وم د کافي تدارکاتو له تابیا، د اجورتي جنګیالیو له غوره کولو او سترواک رنجیت سینګهـ ته د پینځو عربي آسونو او بې شمیرو ډالېو له برابرولو وروسته شمال خوا ته د پنجاب پر لور مارش وکړ.

د همدغو سیندونو د پیوستون په ټکي کې ول چې د ختیځ هند له عالیه کمپنۍ سره مې خدای په اماني وکړه او د سلطنت لپاره مې د چوپړ پر لړۍ باندې د پای ټکی کښېښود. ما مخکې له مخکې خپله پرېکړه کړې وه او هوډمن وم چې خپل سفر به په یوازې سر او د اندس د لښکر د شمال ختیځې څانګې د یون - کرښې په اوږدو کې تر سره کوم او خپله لاره به وهم. په سفر کې زما تر ټولو نېږدې دوست یو له ویښتانو ډک دوه رَګّی سکاټلندی کونګری وو چې ما وربانډې د «دش[41]» نوم ایښی وو. دا سپی مې بمبئـي ته د رسېدنګ په هماغو لومړیو ورځو کې د خپل استوګنځي څنګ ته موندلی وو چې خپله لاره ئې ورکه کړې وه، او له هماغو ورځو راسره ملګری شوی وو. د وخت په تېرېدو سره ول چې په کونګري کې د خپلسرۍ او توند چلندۍ عادت پرمختګ وکړ او په خپلو کړووړو کې به ئې له ځانه زما فطري عادتونه څرګندول. لنډه دا چې په افغانستان کې د ګواښجنو سفرونو په لړ کې «دش» زما د لارې په ښـۀ ملګري بدل شو.

په هغـۀ مهال چې بمبئـي کې وم د افغانستان په اړوند یو ډېر په زړۀ پورې کتاب راسره وو چې : " افغانان، ځای، فرهنګ، نژاد، د کابل د سلطنت ګزارشات" چې په ځان کې "ملت او د دُراني د سترواکي تأریخ ته یوه کتنه رانغاړي[42]" نومېدۀ او مونت سټیوارټ الفنسټن[43] لیکلی وو؛ الفنستن د ختیځ هند په کمپنۍ کې د سیاسي چارو

---

[40] - Alexander Burnes

[41] - Dash

[42] - An Account of the Kingdom of Caubol, and its Dependences in Persia, Tartary, and India, Comprising a View of the Afghan Nation and History of the Doorani Empire


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مأمور وو چې په ۱۸۰۸ ز کال کې افغانستان او ماوراء النهر ته د سفر لپاره لېږل شوی وو. دا لومړنی پېلنیز، کشفي او ډیپلوماتیک مأموریت وو چې د یوه ساتندوی بدرګه ځواک په مرستي تر سره شو؛ په دې پوځي ځواک کې د سپرو یو کنډک، دوه سوه پلي سرتېري، شپږ سوه اوښان او د پېلانو یوه ډله وه. زما په باور د کتاب لیکوال یو ډېر ښـهٔ او حساس لیکوال دی چې پراخې کتني او د پراخو معلوماتو ډالۍ او یوې ښتوني متمدني روح د هغه په ځان کې ځالـه جوړه کړې او په زړهٔ پورې ورتیا ئـې ورپه برخې کړې ده. ددې کتاب ډېرې برخې مې د همدغـهٔ سفر په لړ کې ولوستلې او په هر هغـهٔ څـهٔ چې د افغانستان په اړوند پوهېدلم، د همدغـهٔ کتاب د تومني له برکته ول.

مونټ ستیوارټ[44] چې ډېـرې وخت په لندون مونټي[45] یاد شوی په دې کتاب کې ددې ټاټوبي د سرغاړو قومونو، وحشي ژویو، د هنګامو او حماسو د ټاټوبي او د هغـهٔ د لاس نـهٔ خوړلي طبیعي ښکلا د راښکون شرحه راکاړې. کله چې ستیوارټ د افغان سلاطینو ژمنی پلازمېنې پېښور ته رسېږي نو د شاه شجاع دربار ته د شاه لیدلو ته ورځي او دا نو هغه ورځې وې چې ددهٔ د کاواکه سلطنت له شپږم کال سره ئـې سمون خوړ. مونټي وایي کله چې زما سترګې د لومړي ځل لپاره په افغان شاه ولګېدلې، دی هماغه شاه شجاع وو چې د سرو زرو پر شاهي ګدۍ باندې ئـې په ځانګړې سلطاني مکیز ډېده وهلې وه. شاه شجاع ښکلي ښـېره، چنګه د ګوربت مښوکې ته ورته رومي پزه او زېـږ بخونه بُشره ئـې درلودلـه. مونټي لیکي :" په لومړیو کاتو کې مې سترګې وبرېښـېدلې او ګومان مې وکړ چې د شاه ځان، په جواهراتو او زرو پسولل شویو زغرو پوښل شوی دی، خو چې په ښـهٔ ځـیر مې ورته وکتل، نو د خپلو سترګو په تېروتني پوهٔ شوم ځکه شاه زرغون بخونه کمیس اغوستی وو؛ د جامو پسولنه ئـې د سرو زرو په ګلابتون اوبدل شویو غټو ګلانو او یو شمیر ګران بیو جواهراتو جوړولـه؛ د ټټر پر مخ باندې ئـې چمبې ګلي (زنبق) ته ورته د پسولل شویو الماسو یوه پلنه پاڼه ګنډل شوې وه چې ځلا ئـې د چا سترګې وړلې او همدې پاڼې ته ورته جواهرات ئـې هم په دواړو ورَنونو ځلېـدل، په دواړو لاسونو کې ئـې د شنو زمردو مړوند-ګانو په ځانګړو مکیزونو سترګکونه وهل؛ د ځان په نورو برخو کې ئـې هم بـېـلا بېلي پریمانه ګاڼي ځلېدلې چې هرې خواته ئـې رونا خپروله. د " کوه نور" تر ټولو ستر الماس د افغان شاه شجاع د ښي لاس پر بازو باندې د ځلانده لمر په شان ځـلېـدهٔ.

د «کوه نور» الماس د نړۍ د الماسو په غمیو کې یو ډېـر لوی غمی دی؛ د غمي پر مخ باندې په هندي الفبا د لیکل شوي نـېټي اعتباري سـنـدیت ۱۳۰۶ز کال ته ورګرځي؛ د غمي پرمخ مصیبت زېږونکي لیکنه په دغو ټکیو کېـنـدل شوې ده :" که نارینه ددغـهٔ الماس څښتن وي نو بویه چې ټوله نړۍ به ئـې تر غمي لاندې وي، دا د الماس په څښتن پورې اړه لري چې په ورسره بدرګه بدبختیو هم خبر وي. یوازې، یا خدای یا ښځه کولی شي له دغو بدبختیو څخه په امن کې وي او غمی په ځان کړي." دغه مرموز او له حیرته ډک الماس په ډېرېو افغان کورنـېـو کې له ځان سره په زړهٔ پورې نامتو داستانونه لري. په حقیقت کې همدغـهٔ الماس زما ښـته ډېره پاملرنه ځانته راوکاږله.

---

دا کتاب ښاغلي محمد آصف فکرت دري ژبې ته ژباړلی دی نو ځکه ما هماغه دري نوم دلته غوره کړ. — ژ

43 - Mountstuart Elphinstone

44 - Mountstuart

45 - Mounty

---



maqalat@afghan-german.de افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په خیر و لولئ

عمومي باور دا دی چې سلطان علاء الدين دغه الماس په ۱۲۹۷ز کال کې د گجرات د سلطان له په شا تمبولو وروسته تر لاسه کړی دی. سترواک بابر چې له پلرني پښته د چنگيز او گوډ تيمور په نسب او له مورني اړخه افغان دی او له مړيني وروسته د هغه د زړه د خوښې ښار کابل کې په خپل نامتو بڼ کې خاورو ته سپارل کېږي، په ۱۵۲۶ز کال کې افغان پادشاه سلطان ابراهيم لودي ته په ډيلي کې ماته ورکړه او له ماتې وروسته ئې وواژه. د بابر زوی شهزادگي همايون دغه الماس هغه مهال خپل پلار ته وړاندې کړ چې نوموړی الماس ئې د ويکرم اديتا له پلويانو څخه د «پيشکش» د ډالی په توگې تر لاسه کړ؛ دا ځکه چې د ويکرم اديتا پلويان د پاني پت په لومړی جگړې کې له سلطان ابراهيم لودي سره يو ځای شوي ول، خو د ابراهيم لودي له ماتې وروسته ئې دغه الماس همايون ته وړاندې کړ. لنډه دا چې دغه الماس د بابرزيو په لاس کې پاتې شو او د دربار د نديمانو د کړېو په منځ کې د «بابري الماس» په نامـه يادېده. کېدای شي دغه الماس د هندوستان د گلکندې له ښاره تر لاسه شوی وي، ځکه په همدې سيمې کې د الماسو کانونه ډېر دي. دغه الماس په ۱۶۰۰ ز کال کې د شاه جهان د واکمنۍ پر مهال همدغـه ښار ته راوړل شوی دی. شاه جهان د خپلې گراني مېرمنې په وياړ تاج محل ودان کړ. د گلکندې د ښار سروزير په خټه فارسي ميرجمال وو چې د سروزيرۍ تر څنگ د گاڼو سوداگر هم وو، نوموړي دغه الماس چې د «بابري الماس» په نامـه پېژندل کېده د ويکرم ادتيا د پرگنو په استازيتوب شاه جهان ته وړاندې کړ او شاه جهان هم خپل زړه ته نېږدې ملکې ته ډالۍ کړ. وروسته دغه الماس د سلطان محمد شاه لاس ته ورسېد چې په خټه مغول وو. د فارس پاچا نادر شاه چې په ۱۷۳۸ز کال کې ئې د کرنال په جگړې کې پرېکنده سوبه تر لاسه کړې وه پر ډيلي او اگرې باندې له يرغل او ددغو ښارونو له چور او تالا وروسته غوښتل د «طاووس» نامتو تخت فارس ته راوړي. په دې لړ کې نادر ته خبر رارسېږي چې د «طاووس» په تخت کې ايښودل شوی «بابري الماس» له ځايه بې ځايه شوی دی. ظاهراً د الماس د پټولو ځای ځايگي د سترواک نادر شاه له سترگو تر يوې لنډې مودې پورې پټ ساتل کېږي خو د مغولي حرم يوه ښځه د الماس د پټولو ځای نادر ته وربربندوي. کله چې نادر د الماس د غمي له پټنځايه خبرېږي نو محمد شاه ته د ډيلي د تخت د بېرته ورگرځولو په وياړ د يوې شاهانه پرتميني غونډې د جوړولو فرمان ورکوي. د همدې پرتمني غونډې په پای کې نادر د دواړو پاچاهانو تر منځ د پگړيو د تبادلې وړانديز کوي؛ د پگړيو تبادلـه د مسلمانو واکمنو تر منځ د «وروړگلوۍ او د تلپاتو دوستانه اړيکو د ټينگولو» په نامـۀ يو منل شوی دود وو. محمد شاه د دې خبر په اورېدلـو خپله پښه شا ته کاږي او پوهېږي چې نادر ورسره چلوټه کوي، خو سلطان محمد شاه نور په داسې دريځ کې نه وو چې گڼلی له داسې د ستاينې وړ شاهانه وړانديز څخه دې ټټه وکړی شي، که نـۀ د شونې مرگ له گواښ سره مخامخ کېدونی وو؛ په پای کې په زړۀ نا زړۀ ډول د پگړيو تبادلې ته غاړه ږدي. کله چې نادر شاه د سلطان محمد شاه پگړی تر لاسه کوي، چټک د خپل لښکرکوټ مرکزي ټکي ته ځي او تر لاسه شوی پگړی له خپله سره لـېرې کوي، د پگړۍ له خلاصولو سره سم په پگړی کې پټ شوی الماس مومي، داسې الماس چې برېښنده ځلا ئې د نادر سترگې وړي. د الماس د وړانگې په ځلا کې نادر خپل لاسونه پورته کوي او په لوړ فارسي غږ وايي «کوه نور، کوه نور». له همدې نېټې وروسته د «بابري الماس» افسانوي نوم د «کوه نور» د الماسو په نامـۀ بدلېږي. په دې توگې نادر له خپلې بريمنې سوبې وروسته د نړۍ له دوو سترو جنگي غنايمو، د طاووس تخت او د کوه نور له الماسو سره يوځای د خراسانو د مشهد ښار ته راستـنـېږي.

يوه شپـه، چې شپـه له نيمايي تـېـره وه سترواک نادر په ډېرې ناکرارۍ له خوبه راپاڅېږي، خړ سهار ته لا وخت ډېـر پاتې وو چې احمد خان ځان ته رابولي؛ احمد خان چې د ابداليو د يوې قومي قبيلې د سر مشر زوی او له افغانستانه د نادر يو پياوړی، ډاډمن او د غښتلي وړتيا جنرال وو، په چټکۍ ځان د نادر شاه کېږدۍ ته رسوي. احمد خان د هند د نيمه وچې د سوبې پر مهال ۱۸ کلن وو چې د نادر شاه په لښکر کې ئـې د ۴۰۰۰ افغان قومي


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په خير و لولـئ

سپرو سرتېرو بوله او لاړښوونه په بریالیتوب تر سره کړه. کله چې احمدخان د فارس د ستړواک کېږدی ته ورسېد، د درناوي له تر سره کولو وروسته ئې وپوښتل:

" ښاغلی اعلیحضرت! خیریت دې وي!،" نادر شاه په ځواب کې وایي:

" جنرال احمد خانه! تاسو نـهٔ یوازې زما تر ټولو لوړ او ښـهٔ جنرال بلکه زما تر ټولو نـېږدي او خوږ دوست هم یاست. نن شپـه مي یو وېرجن خوب ولید او بیا ئـي خوب زما له سترگو واخیست. په خوب کې وینم چې یو شمیر کابو سرتېـري زما په کېږدی کي زما د خوب ځای ته لاره مومي او د ژوند تر وروستی سلگی پوري مي په خنجرونو سوری سوری کوي. له مرگه ویره نه لرم خو له خپل مرگ وروسته د خپلي کورنی په خوندیتابـهٔ ویرېږم او اندیښنه مي کرار کرار ډېرېـږي". احمد خان په ځواب کي وایي :

" شهنشاه اعلیحضرت! هېـڅ ځوک دوني زړهٔ نـهٔ لري چي ستاسو کېږدی ته دي نـېږدي شي دا خو لا پرېږدئ چي ځوک دې شهنشاه په خنجر ووهلی سي. د پوځي عملیاتو له ترسره کولو وروسته او یا له عملیاتو مخکي دداسي خوبونو لیدنگ غیر عادي نـهٔ دي. هېـڅ اندیښنه مـهٔ کوئ، او ښاغلی اعلیحضرت دي بېـرته په کرار خوب بـیدهٔ سي." نادر شاه بیا پوښتنه کوي :

جنرال احمدخانه! که داسي یوه پېښه رامنځته کېږي نو له تاسو څخه یوازینی هیله لرم، او ددې هیلي په ترسره کولو کي ستا ژبه او ژمنه دواړه غواړم چي د افغانیت د قانون تر سیوري لاندي به زما د کورنی ساتنه کوئ."

احمد خان : " ښاغلی اعلیحضرت! هیله کوم خپله روح په دې گواښجنو وحشتناکو فکرونو مـهٔ نا آراموئ، تاسو به انشاء الله د ډېـرو کلونو لپاره ژوند او اوږد پرتمین سلطنت ولرئ، لوی ښتن دي تاسو ته د خضر نبي حیات ژوند در ډالی کړي."

نادر شاه :" جنرال احمد خانه! یو ځل بیا ئـي تکراروم چي: که ووژل شوم ما ته دواړه لاس او ژمنه راکړه چي زما د کورنی ساتنه به کوئ. پر ما یوه پېـرزوینه وکړه او ماته دې د خپل افغانیت په سپیڅلتیا د ځوانی لاس راکړه."

احمد خان خپل لاس ور وغځاوهٔ او د نادر لاس ئـي ټینگ ونیو او دواړو د ورونو په شان یو بل په غېـږ کي ونیول.

احمد خان په خپل ډاډمن او ژمن غږ وویل : " ښاغلی اعلیحضرت! تاسو یوهېږئ چي په بشپړي سپیڅلتیا او گروهي ستاسو په چوپړ کي وم او هر هغه ډول چي ستاسو غوښتنه وي بیا هم چمتو یم او په هر ډول حالاتو کي به ستاسو د کورنی په چوپړ کي واوسم."

څو میاشتي وروسته د ۱۷۴۶ز کال د جون د میاشتي لومړی شپي ورځي وې چي نادر شاه کټ مټ د هماغهٔ وحشتـناک خوب د خپسکي په شان وژل کېږي. د نادر ساتندوی گارډ، پاچا د ژوند تر وروستی سلگی پوري په خنجر ټوکر ټوکر کوي. فارسي ستړواکي هغه مهال د الـه گولي په لومي کي ښکېلـېږي چي یو سولند ورو خپل بل ورور په سلطنتي ارگ کي دننه د سلطنت د واگو د ترلاسه کولو په اسیت (سبب) وژني.

د دې خبر په اورېدلو احمد خان د خپلو سپرو سرتېـرو د یوهٔ غنډ په ملتیا د خراسان فتح آباد ته د نادر شاه د مرستي لپاره ورسېـد. فتح آباد ته په رسېـدلو احمد خان ته په ډاگه شوه چي نادرشاه د خراسان په فتح آباد کي په خپلي سلطنتي کېږدی کي وژل شوی او د ستړواک سر د هغـهٔ له تني څخه بېل شوی دی. گنگوسو ویل چي د سلطنتي کورنی د غړو تر منځ شخړه د ستړواک د وژل کېـدا لامل شوي ده. احمد خان چي د سلطنتي کورنی په کورنـېو چارو کي لاسوهني ته لېـوال نـهٔ وو په ډېري خواشینی بېـرته خپل ټاټوبي کندهار ته راستون شو. د ۱۷۴۷ز د اکتوبر په میاشت کي احمد خان د لویې جرگي تر مخ د افغانستان د پاچا په توگي غوره او وټاکل شو. د هېـواد د اکثریتو ولایتونو د قومي مشرانو په جرگي کي له اتـهٔ ورځنیو وراشو او خبرو اترو وروسته مشرانو پرېـکړه وکړه چي وروستی پرېـکړه دې د صابر شاه کابلي په نامـهٔ یو تن صوفي وکړي او د افغانستان راتلونکی پادشاه دې غوره کړي. کابلي صابر شاه د ناستو کاندیدانو پر کړی اووه ډَوري ووهلي او په پای کي ئـي د غنمو د



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

وَرِیـو یوه ځانګه د احمد خان د پګړۍ پر سر کښېښنودله. په لومړیو کې ئـې احمد شاه بالـهٔ خو وروسته د دُرانیو «دُرِ دُران[46]» د ستروواک لقب ورته غوره شو (دُرِ دَوَران، د عصرونو مرغلره). کله چې د فارس د پاچا د زامنو د وژل کېدا او ورسره بدرګه د فارس په شهنشاهي ماڼۍ کې د اله ګولي خبر احمد شاه ته رسـېږي نو دی چې اوس د افغانستان پاد شاه دی له څلورو زرو پیاوړو سپرو سرتـېرو سره فارس ته ځي او په اصفهان کې د فارس د پلازمېنې واګې په لاس کې اخلي. وروسته له دې چې احمد خان د فارس د سلطنت تاج او تخت د نادر شاه لمسي څوان شاهرخ ته بېرته راګرځوي او ورسپاري، د نادر شاه مېرمن، ملـکه شاه بانو، احمد خان سلطنتي ماڼۍ ته رابولي او د کوه نور الماس ورته وړاندي کوي. احمد خان دا وړاندیز نـهٔ مني او په ځواب کې شاه بانو ته وایي چې ما له اروابناد ستروواک نادر شاه سره ژمنه کړې وه، ما یوازې د خپل دَین د اداء کولو په پار دا کار وکړ. شاه بانو په ځواب کې وایي چې نادر شاه له خپلي مړیني مخکي دې ته هغه ژمنه او هوډ ویلی وو چې تاسو له نادر شاه سره کړی وو، اوس ما ته هم اجازه راکړئ چې د ستروواک هغه دَین او پور اداء او هیله ئـې تر سره کړم چې ما ورسره کړې وه. په پای کې دُراني احمد شاه د ملکي په زښت ډېـر ټینګار د کوه نور الماس چې د سرو زرو په یوهٔ بکسګوټي کې ایښودل شوی وو د ملکي له لاسه مني. د کوه نور الماس د افغانستان د ستروواک احمد شاه له لاسه وروروسته د هغـهٔ زوی تیمور شاه او بیا ئـې لمسي شاه شجاع ته وررسـېږي؛ شاه شجاع د «بارکزیو» د افغان سلطنتي کورنۍ له را څرګندېدا وروسته د همدې کورنۍ په لاس ړنګـېږي. شاه شجاع کشمیر ته تـښتي او له هغـهٔ ځایه پنجاب ته ځي چې هلته د سیکهانو ستروواک رنجیت سینګهـ په واک کې دی؛ رنجیت سینګهـ پر شاه شجاع مرګونی دباو راولي او د کوه نور الماس چې د یوهٔ دیوالـهٔ په سوري کې ئـې پټ کړی وو په وچ زور ورڅخه تر لاسه کوي. د سیکهانو ستروواکي د انګلیسانو پر وړاندي له درو جګړو وروسته ړنګـېږي او د برتانیې د ستروواکۍ یوه برخه ګرځي. وروسته په ۱۸۵۰ز کال کې ول چې د رنجیت سینګهـ دیارلس کلن زوی دلیپ سینګهـ د کوه نور الماس د علیاحضرتي هندي دولت له پلوه د مخکي له مخکي سمبال شویو مراسمو په ترڅ کې په لندن کې ملکي ویکتوریا ته د جنګي غنیمت تر نامـهٔ لاندي ډالی کوي. د کوه نور الماس د شهزادګي البرټ تر نـېغي لارښوني لاندي په امستردام کې له ۱۸۶ قیراطو څخه ۱۰۵ قیراطو ته په تقلیلي ډول ددي لپاره پرېک کـېږي چې ځلا او بریښ یې ډېـر شي. په پای کې د شپږو پېړیو توطئو او خنجر له خونړۍ سیوري وروسته د کوه نور الماس د ملکي ویکتوریا تاج ته د هندوستان د ستروواکۍ د ټولواکي په نامـهٔ لاره مومي. له همدې نـېټي وروسته ول چې د کوه نور الماس د برتانیې د تاج په مخکینۍ برخي کې د تاج په مالتي صلیب[47] کې وټومبل شو او یوازې د انګلستان ملکي ئـې ږدي چې په دې ډول پر نارینه وو ستروواکانو او شاهانو باندي د الماس پر افسانوي شګون د منښت ټکی کښېښنودل شو.

---

[46] - Durrani Emperor (Durri-i-Dawran, pearl of ages)

[47]- Maltese cross : مالتي صلیب چې د امالفي صلیب پـهٔ نامـهٔ هم یادېـږي پـهٔ حقیقت کې د عیسوي جنګیالیو صلیب دی او همدوي ول چې دا صلیب ئـې د مدیتراني د مالتي ټاپو ته راوړ او نن د مالتا ملي سمبول دی. دغـه صلیب له ۲۰۰۸ز کال وروسته د اروپا د یوهٔ او دوه یورو یي ایکیو یا مسکوکاتو پر مخ هم ضربـېږي. پـهٔ ۱۶ پـېړۍ کې هغه مهال چې صلیبي جنګیالي پـهٔ مالتا کې ول د نومورې صلیب ډیزاین د مالتا د صلیب پـه نامـهٔ یادېـد کړ او د همدغـهٔ ټاپـو د ملي سمبول په توګې ومنل شو. دا سمبول نن د نړۍ په ډیریو هـېوادونو کې لکه په سویډن، ناروې، هندوستان، فیلیپین، آسترالیا، هسپانیا، مالتا، ایټالیا، سویټزیرلند، فرانسې، جرمني، امریکا او انګلستان کې کارَول کـېږي. په درملونو کې هم د سمبول پـه ډول کارول کـېږي. ژ



ښاغلی حامد نوید چې بریـالی انځورګر او شاعر دی پورتنی انځور کښلی دی. انځورګر او شاعر ښاغلي حامد نوید د خپلو انځوریزو ټولګو نندارتون، افغانستان کې هنر د عصرونو په لړ کې، د امریکا په بوستون کې په ۲۰۱۲ز کې پرانیست او دا انځور له همدغې ټولګې څخه دغه کتاب ته ډالی شوی دی

نور بیا په دویم څپرکي کې



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ